AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۱/۲۵

# لویه تلوسه

دیارلسمه برخه

**د اوبو بين المللی قوانين**

**دوهمه برخه**

**دویم فصل**

**د پولېز ( پوله جوړونکي) سیندونه**

د دجلی – فرات سیندونو په حوضه کې د شریکو هیوادونو د ونډو سلنه

| ردیف | شریک هیواد | شامله سلنه | ردیف | شریک هیواد | شامله سلنه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عراق | ۴۰ / ۴۸ | ۴ | سوریه | ۱۴ /۷۳ |
| ۲ | ترکیه | ۲۴ // ۸۰ | ۵ | هاشمی اردن | ۰ /۲۵ |
| ۳ | ایران | ۱۹ / ۷۰ | ۶ | سعودی عربستان | ۰۱/۰ |

دا مهال د نړی په ډېرو سیمو کې د ژوند چاپیریال ساتنه او د ژوند چاپیریال کیفي لوړتیا له بشري ډېرو مهمو کارونو څخه ګڼل کیږي او په راتلونکي کې به هم وګڼل شي. تولنه ځمکغونداری/ګردی ځمکه د «ظهرالفساد في البر والبحر بما کسبت ایدی الناس لیذیقهم بعض الذی عملوالعلم یرجعون» (سوره روم، ۴۱ آیه) مبارکي آیت مصداق ګرځیدلی دَی.

د هیواد د ژوند چاپیریال سازمان نظارتي دندي ټول خلک، تولیدي واحدونه او خدمات او... رانغاړي. دغه سازمان باید د اوبو د مسئلو په برخه کې غځیدلی جوړښت، پوخ او غوره مقام، زیات ماهرین او وړ مدیران ولري. دولت باید لازم امکانات د هغوی په واک کې ورکړي او ملت او د ژوند چاپیریال ولسپال سازمانونه (NGO) باید د هغه ملاتړي وي .
د ایران د اوبو او د ژوند چاپیریال ډیپلوماسي باید هومره ځواکمنه وي چې د بهرنیو چارو وزارت، د انرژی وزارت او د ژوند چاپیریال د ساتنې سازمان د ذینفع هیوادونو ترمنځ دجلی او فرات سره اړوند په ټولو خبرواترو کې حضور ولري.

باید د دجلي او فرات د دوو سیندونو او په نتیجه کې د اروندرود(سط العرب) د محور په شاوخوا د ترکیې، سوریې، عراق او ایران د یوې څلور اړخیزې همکارَی بنسټ کېښودل شي. د ایران ډیپلماسی باید د دجلي او فرات حوضي هیوادونو اتحادیه رامنځ ته کړي. پدې اتحادیه کې د کار اساس باید ددغو سیندونو د اوبو د سرچینو او د ژوند چاپیریال د مدیریت په محور وي. په وروستیو کلونو کې، د دغو دوو سیندونو څنډو ته څېرمه باتلاقونو وچېدو څخه رامنځ ته شویوخاورو او دوړو له امله د ایران په لویدیځ او مرکز کې د ژوند چاپیریال د پراخو کړکیچونو له راڅرګندیدو وروسته، په ځانګړې توګه د ایران د ژوند چاپیریال سازمان او د هوا پېژندنې سازمان او نورو بنکیلو هیوادونو له لوري په ځانګړې توګه د عراق او یو څه هم د ترکیې له خوا ګډې ناستې ترسره شوي دي خو دغه ناستې تر دې مهاله د دجلي او فرات حوضي، چې ایران هم د هغه برخه وي، د کومې اتحادیې د رامنځ ته کېدو لامل شوي نه دي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

بی ترتیبه بندجوړوني او يا د دجلي او فرات اوبو بې دبه لګونه د دغو دوو سيندونو د غاړو د ډنډونو, او باتلاقونو د وچېدو موجب شوي دي. دا کار د ژوند چاپيريال له زيان او تاوانه ډکي پايلي لري. هغه ستونځي چي يوه برخه يې په وروستيو کلونو کي(۸۹ - ۱۳۸۵) د لرو او دورو په بڼه رامنځ ته شوي دي. هغه لرې او دورې چي زيانونه يې له محاسبې وتلي دي، هغه کارځنډېدني، کمکاري، ناروغۍ او تاوانونه چي صنعتي دستګاو ته د دوړو او ګردونو د ننوتلو په پايله کي رامنځ ته کيږي. لدې امله سنتي ډيپلماسي، چي د ترکيې، سوريې او عراق په خاوره کي د ننه يي د بندونو جوړولو او د اوبو - خاوري اړوند نورو فعاليتونو په وړاندې بې خېځپانده او بی توپيره عمل کړی، اوس بايد هيواد ته د رسيدلو ملياردونو ډالرو د زيانونو اوريدو شاهده وي. د ايران ډيپلماسي د اوبو د تولي حوضي په تړاو چي د ايران په جغرافيه يی فضا کي زمونږ پر ملي ګټو مثبتي يا منفي اغيزې لري، بايد فعاله واوسي. د دغو حوضو د اوبو موضوع يوه مسئله ده خو د هغوې د ژوند د چاپيريال مسئلي له بيله ډول مطالبو څخه عبارت دي او فعاله ډيپلوماسي غواړي. هغه کسان چي په هېواد کي اقليمی بدلون سره اړوند څېړني او سياست رغولو مسئوليت لري بايد دغه مسئلي دسيمه ييز او نړيوال لوی لورليد له مخې وڅېړي. او د بهرنيو چارو وزارت له تېر مهاله هم لا ډېر په دغو مسئلو کي راښکيل کړي.(15)

## ۳ - هيواد کی د ننه په تېره بيا د فارس خليج ساحلي سيمو ته د اروند رود د اوبو لېږدوني د مطالعاتو وړانديز

د شط العرب يا د اروند رود پر سر د ايران پوليز قراردادونه، هم د عثمانی ترکيې پر مهال او هم عراق سره، د پولي د حدودو د ټاکلو او پدې اوبولاره (اوبلاره) کي د بيړی د چلوني څرنګوالي په اړه وو، په دغو قراردادونو(تړونونو) کي د ترکيې عراق او سوريې په خاوره کي د ننه د سيندونو د اوبو مديريت مسئله او يا عراق يا ايران له خوا نورو سيمو ته د اوبو ليږدونه مطرح شوي نده.د لويو صنعتي طرحو له مخې چي د ايران په جنوب کي اجراکېدو په حال کي دي او راتلونکي کي به اجرا شي د فارس خليج په غاړو کي د جمعيت ډېرېدنه او د خوږو اوبو ورځ تربله زياتيدونکي غوښتنه او د ځمکي لاندي اوبو د کاسو (زيرمو) د کچي راټيټېدنه او د اقليم بدلون (له امله) د خوزستان بيابانونو (ډاګونو) پر لور او له هغه ځايه تر بوشهر او ان له هغه هم ورآخوا د اروندرود د يوې برخي اوبو د لېژدوني وړانديينه شوي ده.

که چيرې ترکيه، سوريه، عراق يا هر درېواړه هېوادونه، د خپلي محدودې له اوبو څخه په زيات مقدار اوبو لګول ولري او يا يې يوه برخه دريم هيواد ته ورکړي شط العرب ته د تويېدونکو اوبو کچه به ولويږي .

مونږ د اروند رود د خوږو اوبو په تړاو بايد کوم/څنګه سياست ولرو؟

زمونږ ډېپلماسی پدې برخه کي بايد څه/څنګه وي؟

ښکاري داسي لکه څنګه چي وويل شول د دغې مسئلي پر سر د دجلي او فرات حوضي هيوادونو ترنامه لاندي يوه نړيواله همکاري، کم له کمه د ترکيې، سورېې، عراق او ايران د څلورو هيوادونو ترمنځ لازمه ده .

د اروند رود اوبه به په نه چندان ليرې راتلونکي کي د نن پر تله له ډېر لوړ اهميته برخمني شي. د دغه سيند له اوبو څخه زمونږ ونده بايد مشخصه شي. د فارس خليج په څنډو کي خپلو جنوبي سواحلو لپاره مونږ په نه چندان لرې راتلونکي کي بلکي حد اکثر تر ۱۴۱۰ کال(ه. ق) پورې د اروند رود اوبو ته سخته اړتيا لرو. د اروند رود په برخه کي زمونږ ډيپلماسي بايد په هغه ترتيب وي چي په اروند رود سيمه کي زمونږ ونده مشخصه شي. اروند رود چي يو وخت زمونږ د بيړی چلوني وړ ډېره مهمه اوبيزه پوله وه. همدا مهال د اوبو کمښت او حتی د وچيدو له ګواښ او په ترکيه، سوريه، عراق او حتی زمونږ پخپلو سرښاخونو کي د اوبو له بی ترتيبه لګښت او نورو هيوادونو ته د اوبو د ليږدوني له ګواښ سره مخامخ ده .

((15) د استازی د حضور په دليل ايران په کلونوکلونو د نړيوالي هوا پيژندني سازمان د دويم مرستيال او لومړی مرستيال په عنوان؛ ايران په نړيواله کچه په ځانګړي ډول د اقليم بدلون په برخه کي اساسی رول درلودلی دَی. البته پدې برخه کي د ايران حضور تر ډېره بريده د وخت د هوا پيژندني سازمان د رييس د شخصي وړتيا په علت ۇ. پدې توګه چي د هغه کس له متقاعد کيدو وروسته د هواپيژندني په سازمان کي د ايران د حضور رنګ تت شو او د نړيوالي هوا پيژندني سازمان د لومړی مرستيالی پست مو له لاسه ورکړ. نو بايده ده چي هغه جوړښتونه رامنځ ته شي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

چې په فرد تکیه ونلري او په جوړښتیزه توګه د ایران مقام مشخص شي. یا که چیرې زمونږ حضور د افرادو له وړتیاو سره تړلئ وي هغه افراد یو واري او د ځواکمن ځای ناستي له روزنې بغیر متقاعد او له کاره وزګار نکړو).

مونږ کوم ترون یا په څه باور لرو چې په راتلونکو لسیزو کي به دغه سیند په یوه کوشني ویالي یا د فاضلابو په رود بدل نشي؟. اروند رود څخه زمونږ ونډه څومره ده؟ په هغه سیند کي چي د تاریخ په اوږدو کي مونږ وربانډي واکمني لرلي او زمونږ له ننيو ګاونډیانو سره مو په تیرو پیړیو کي د اختلافونو لامل ؤ زمونږ د اوبو ونډه مالومه نده. پدي اساس تر هر کار دمخه لومړی باید له دغي رودخاني څخه د ایران د اوبرخي ونډه مشخصه شي. بیا د انرژی وزارت د دغي اوبرخي لپاره پلان ولري. د اوبو او انرژی وزارت باید خپلي مطالعاتي طرحي د اروندرود او د خوزستان رودونو اوبو د لیږدوني په برخه کي د بوشهر ولایت او د هرمزګان ولایت پر لور بشپړ کړي.

حتی که د اروند رود اوبه دومره ککړې وي چې د ښناک لګښت ونلري د ایران جنوبی دشتو د ځمکلاندي د اوبو زیرمو ځواکمنولو لپاره به د اوبو لیږدونه اړینه وي. ښکاري داسي چي د اروند اوبو څخه د ګټي اخیستو لګښت به د جنوب ډېرو سیمو لپاره په هر صورت کي د اوبه پاکوونکو( پاکولو پروسي ) له لګښته لږ وي. که څه هم اوبه پاکوونکي باید ډېر فعال عمل وکړي. په خپل ځای کي به د اوبو پاکوونکو خبری ته راوګرځو.

که ترکیه، سروریه عراق او حتی مونږ پخپله په ایران کي د دجلي په سرښاخونو کي اوبه بی ترتیبه ولګوو یا سوریيان او عراقيیان وغواړي ګاونډیو هیوادونو ته اوبه ولیږدوي چي اروند رود ته اوبه ونرسیږي د عراق او ایران په جنوب کي به اکولوژیکي ناورین رامنځ ته شي .

یوه فعاله ډیپلماسی کولای شي د ګډې پولي له اوبیزو سرچینو او د اکولوجیکي سیستم څخه د ساتني ګټه اخیستنه تضمین کړي. پدي سربیره مونږ کولای شو د اروند رود حوضي په وروستی برخه کي هغه اوبه چي فارس خلیج ته توییږي په کورني مصرف کي ولګوو. مګر ایا مونږ د دز اوبه یزد ته نه رسوو. په راتلونکي کي به اړ شو د اروند رود اوبه بل ځای ته ولیږدوو. داړمن اوسی چي یوه ورځ به د بین النهرین او خوزستان حوضي د وروستنی برخي د اوبو یوه برخه بوشهر او د فارس جنوب او هرمزګان ولایت ته ورسوو. شاید یو وخت دغه اوبه نورو سیمو ته ورېږي. که چیری مونږ ذی نفع او ذی مدخل هیوادونو سره تفاهملیک، او اروند رود څخه مشخصه ونډه او اوبه برخه ونلرو ترکان، سوریاییان او عراقیيان به د فرات او دجلي اضافي اوبه په کویت، اردن، سعودي عربستان وپلوري او اوبه به ایران ته راونرسیږي. کوم څه چي په یو ډول همدا اوس هم تر سره کیږي.

که زمونږ په دي برخه کي د اوبو فعاله ډیپلماسی و نه لرو شاید په نه چندان لیرې وخت کي د دې شاهد و اوسو چي پاسنیو هیوادونو اروند رود لپاره اوبه ندي پرې ایښي. هغه ورځ زیاته لیرې نده.

**باید د بین االنهرین په تولـه حوضه کي د ګډو همکاریو په بنیادونو روښانه، شفافه او هر اړخیزه ډیپلماسي تینګه او رامنځ ته کړو. څو د اروند رود اوبه او اوبلارې بیا د اړودوړ او جګړو پلمه جوړه نشي، بلکی د سولې، دوستی او تیکامنی پراختیا وسیله شي. او مونږ هم تاکلي اوببرخه ولرو.**

وړاندیز کیږي چي خوزستان، بوشهر او د فارس خلیج د سواحلو ختیځي خوا ته حتی تر بندر عباس پورې د اروند رود اوبو د لیږدوني مطالعات ترسره شي. د اروند رود اوبو لیږدونه به ډول ډول اقتصادي – ټولنیزي او د ژوند چاپیریال او سیاسي اغیزې راوړي.

د کتاب ادعا دا نده چي هغه ټولي پروژې چي بې وړاندیزوي، ښې دي. د دې کتاب وړاندیز باید د باصلاحیته او د پوهي خاوند چاریوهانو له خوا مطالعه شي. ان که دغه پروژې دامهال د پلي کیدو وړ هم نه وي د هغوی مطالعه او یا د مخکینیو مطالعاتو بیاکتنه اړینه ده. خو د دې کتاب له نظره د ډیپلماسي اروندکلیات چي د اوبه برخي پر سر له مذاکرې د اوبو زیرمو تصرف او پیرودلو او په اوبیزو تاسیساتو کي پانګونې سره تړاو لري، د تایید وړ دي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څېر و لولئ

فرض وکړی چي په نه چندان ليرې راتلونکي کي لاندې مسئلي پېښي شوي:

۱ –، عراق، سوريه يا ترکيه دريواړه هېوادونه دي يوبل سره هوکړه وکړي د فرات اوبو يوه برخه لکه د اسراييلو، اردن، عربستان يا کويټ په خبر په دريم هيواد وپلوري. هرو مرو به د اروند رود د اوبوحجم راښکته کېږي.

۲ ترکيه په ختيځه خاوره کي د فرات يا د دجلي د سرشاخونو يوه برخه اوبه مهار کړي او د ترکېي نورو سيمو ته يې وليږدوي دغه کار د پېښېدو په حال کي دَی.

۳ سوريه يا عراق د دجلي او فرات د اوبو مهمه برخه خپلي بياباني برخي ته وليږدوي. سورياپيانو دغه کار ترسره کړی دَی او بيا به يې هم ترسره کړي. د بين الملل سايبر ايراني سلاکار مهندس شرکت د کرکيلی ۶۵۰۰۰ هکتاره ځمکي اوبو تامينولو پهه خاطر فرات څخه د حلب جنوبی دشتو ته د اوبو رسوونکي تونل او کانال ليږدوني لپاره فعال دَی . دې کانال او تونل ته د اوبو ليږدوني حجم، په ثانيه کي ۵۰ مترمکعب په کال کي له کابو ۵/۱ مليارده مترمکعب سره معادل دي. ايا په دومره اوبو اخېستلو سره به د اروند رود اوبه لږې نشي؟ هرومرو به لږيږي.

ترکېي او عراق په دجلی او فرات د پاسه ۳۲ بندونه جوړ کړي دي.

۴ ـ په اسراييلو د ترکېي د اوبو پلورل بحث او په ترکيه کي د اسراييلي شرکتونو لخوا د اوبو رسوني د پروژو اجرا کول او اسراييلو له خوا د ترکېي له خوړو اوبو څخه، له دې ډلي له فرات سيند څخه د ابو ترلاسه کولو خبرې له ۲۰۰۲ کال مطرح شوې دي. فرات اوبو څخه هر ډول اوبه اخيستل ( برداشت) د اروندرود اوبه اغيزمنوي.

۵ – پدې منځ کي اسراييلو سره د سورېي سوله هم د فرات سيند څخه د زياتو اوبو له ترلاسه کولو سره تړلی ده. ترکيه انديښمن دَی چي سوريه ، له فرات څخه د زياتو اوبو د ترلاسه کولو په شرط، اسراييلو سره سوله ومني او د جولان له ارتفاعاتو څخه تېر شي، په اسراييلو کي د اوبو ځيني کارپوهان وايي ترکيه لازمه ده سورېي ته د فرات سيند له لارې زياتی اوبه برابرې کړي څو د سورېي ښکيلتيا (مجبوريت) د جولان له ارتفاعاتو سره راکمه شي. سورېي ته فرات له لارې د زياتو اوبو د ورکولو په صورت کي او د سوريی سره د اسراييلو د سولي په پايله کي دا دواړه هيوادونه به په ګډه د جولان له اوبو څخه ګټه واخلي. ترکيه انديشمن دَی چي سوريي سره سولي لپاره د امريکا اسراييلو په فشار سره مجبور شي د فرات له اوبو څخه د سورېي ونده زياته کړي. اسراييلي ډيپلماتان د اوبو په معامله کي د اسراييلو لاسوهنه نه مني. خو عملی توګه سوريه او ترکيه کله ناکله د فرات د اوبو په سر خپله لفظي شخړه تعقيبوي. سوريه فرات اوبو څخه د زياتي ونډې غوښتَنه کړي. خو ترکېي تر اوسه کوم مثبت جواب نه دی ورکړَی. د فرات اوبو پر سر د اتاتورک بند جوړولو له وخته د ترکېي او سورېي اختلاف توند شوَی دَی. سوريه په ترکيه کي بند جوړولو سره هيڅکله موافق نه ؤ، او باور لري چي په فرات سيند باندې له بند جوړولو سره، دې هيواد ته د ورودي اوبو حجم کم شوي دي. ځيني دنظرخاوندان باور لري که سورېي سره د اسراييلو سوله پيل شي د اوبو پر سر به ترکېي سره د سورېي شخړه پيل شي. (۱۶) )

۶ – عراق: عربستان يا کويت ته، د دجلي فرات يا حتی شط العرب د اوبو يوه برخه د پيسو يا نورو اقداماتو په مقابل کي وليږدوي. يا تر هغه څه چي دا مهال يې کوي نور هم زيات کړي.

بنايي۱۹۹۷ کنوانسيون سره پيوستون او هغه سره الحاق لپاره د ګاټونديو هڅونه، پخپله د مسئلي له لومړنيو حلالرو يوه حللاره وي. خو وروستی او بشپړ حللارې بايد د ملګرو ملتونو سازمان تر نظارت لاندې د زياتو اوږدو او ډيپلماتيکو خبرو اترو له لارې د يوې يا دوو لسيزو په اوږدو کي عملي شي.

Christian Science Monitor 1996. Vol Issue30.pl) (۱۶)

په هر صورت مونږ پخپله د هيواد په لويديز کي د دجلي په سرښاخونو باندی د بند جوړوني د۱۳۸۰ لسيزې په اقداماتو سره د اروند رود د ټوليزې کچي په راښکته کولو کي نقش لرلی دَی. مونږ پخپله د اوبو په سرښاخونو کي. اوبه اخلو ترڅو په کوزنيو برخو کي له ستونځو سره لاس ګريوان شو. د هيواد لويديځ کي د اوبو په وړاندې د ايران ډيپلماسي بايد خورا فعاله او پراخ نطره ډيپلماسي وي څو زمونږ حق او حقوق په لاندې زمينه کي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

۱ - د اروند رود د پولېزې مسئلې او هلته د بېړۍ چلوني حق د اندېښني لامل او کړکيچنه نشي .

په ټوله سيمه کي د ژوند چاپېريال مسئلې او د سيند ککړتيا کنټرول شي.البته بايد د UNEP رپوټونو ته، چي مخکي بې په ۲۰۰۰ لسيزه کي د ايران او عراق ترمنځ د تالابونو د وچېدو لپاره خبر ورکړی ؤ، په خپل وخت کي پاملرنه شوې وای. هغه رپوټ چي د بين النهرين حوضي تالابونو وچېدو څخه د رامنځ ته شويو زيانونو په اړه يو خبرداری ول.

۲ – د اروند رود اوبو د لګښت( اوبه اخيستل) او هغو ته لاسرسي څرګند وي.

که پدې برخه کي فعاله ديپلماسی ونلرو، انفعالي ديپلماسی سره به مخامخ شو. ياني په پيل کي به له پاسنيو وړاندوېينه شويو کارونو يو يا څو مورده پېښ شي او وروسته به بيا مونږ مجبور شو چي په شور او ځوږ اعتراض وکړو چي د بيلګي په توګه، د فرات يوه برخه اوبه ترکيې او سوريې ولې په ګډه په اردن،کويت او عربستان، او تر ټولو ناوړه د اسراييلو په څېر، په يوه دريم هيواد پلورلي دي. پدې لړ کي د بين النهرين حوضي اوبو لګولو څخه د ژوند چاپېريال رامنځ ته شوي مسئلې نبايد هيرې کړو. همدا اوس چي د ستونځو د پېښېدو پيل ذَی زيانونه بې ملا ماتوونکي شوي دي وېره له هغي ورځي ده چي لږې او دوړي د هيواد د لويديز او د تهران انساني فعاليتونه زيانمن او په ټپه ودروي( يادونه کيږي چي د ګرد او دوړو يوه برخه د سيمي باتلاقونو له وچيدورامنځ ته شوي. د دوړو او ګرد لويه برخه له سوډاني اقليم( اوبه او هوا) څخه رامنځ ته شوي ده )

اوبو سره اړوند کارونه په ۱۳۹۰ کال کي په بهرنيو چارو وزارت کي د نړيوالو حقونو دفتر عمومي اداري تر نظر لاندې، چي هغه بيا د نړيوالو حقوقو د مرستيالی تر څار لاندې ده، ترسره کيدل. کاري مواردو له مخي د پولي اداره او نړيوال اقتصادي دفتر هم په چارو کي شامليږي (دGEF پروژه) خو اوسني جوړښتونه لويو اوبيزو کارونو لپاره بسنه نکوي.

| |
|---|
| وړانديز کيږي:<br>بهرنيو چارو وزارت کي د اوبو، اوبه هوا او د ژوند چاپېريال په نوم يو معاونيت رامنځ ته شي. دغه معاونيت بايد د انرژی وزارت، د ژوند چاپېريال سازمان او د ټول هيواد هوا پيژندني سازمان سره همغږه وي.<br>په سفارتونو کي (کم له کمه په هغو هيوادونو کي چي د اوبو سرچيني لري) د اوبو يو اتشه چي د انرژی وزارت لخوا معرفي کيږي (لکه د فرهنګی او نظامي اتشی په څېر) د ژوند چاپېريال يو اتشه حضور هم ولري. د دغه اتشه مهمي دندې:<br>۱ – د ماموريت ځای په هيواد کي د اوبيزو فعاليتونو څارل.<br>۲ – يوه دوه اړخيز يا څو اړخيز کنوانسيون ته رسيدو لپاره مذاکراتو ته ورود چي (زمونږ) اوبو برخي او د ژوند چاپېريال مسئلو څخه ساتنه چي پر مونږ اغيز پرېباسي او زمونږ ملي ګټي تامين کړي.<br>۳ – د ايران پانګونه (دولتی، خصوصی او بانکي برخي) د دندی ترسره کولو هيواد په اوبو چارو کي د اوبو بورس(بازار) ته د ورود زمينه تسهيل کړي. |

نور بيا

د فرات ـ دجلې او اروند رود حوضي ډيپلماسی لپاره وړانديز کيږي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ